**د تړون د ورکولو دپریکړې خبرتیا**

د تدارکاتو قانون د دري ځلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک په نظر کې لري ترڅو؛ د افغانستان بانک د هلمند ولایت څانګی لپاره د سولري سیستم چمتو او نصب کولو پروژه د DAB/1402/NCB/W23 تشخیصیه شمیرې لاندې د کندهار رفیقی ساختمانی انفرادی شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د D-04-2368 شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت يې د سابقه قول اردو، د کندهار په مرکز کې دی د تړون ټولیزه بیه (1,169,168.66) یو میلیونو یو سلو نهه شپیته زره یو سل او اته شپیته افغانۍ او شپږ شپیته پوله ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلې بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په پښتونستان واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د تړون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به تړون نه عقد کیږی.